مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

دوديال

۲۰۲۳/۰۸/۲۷

# د افغانستان د لوی قاموس لومړني او ضروري اصول

نن ورځ  جامع قاموسونه د پوهې، اجتماعي آګاهی او جمعي شعور او د مفاخرو او مشاهيرو او د حساس فرهنګی میراث دثبت او ساتنې مهم وسايل دي چې د ټولنې د وګړو د پوهې او درک کچه ورسره په متناسب ډول اړيکه لري. په تېره بيا آنلاين ديجيتال سينډګي د پوهې، څېړنې او علمي ډګر د پلټونکو لپاره معتبر مراجع بلل کيږي. په پرمختللو هېوادو کې هم د عمومي او هم د هرې ځانګې اختصاصي قاموسونو ته په کافي اندازه کار شوی دی او لا هم دغه هڅې جاري دي. ډېرو هېوادونو کې د قاموس ليکنې لپاره تخصصي مسلکي ادارات جوړ او په پوره اندازې بودجې سره د همدې موخې لپاره کار کوي. الله الحمد د پرمختللی تکنالوژی اود ( IT) دوران کې دا دی موږ افغانان هم وتوانيدو چې (د افغانستان لوی قاموس) د يو نوښت او ضرورت له مخې پيل او دادی ګام په ګام پر مخ ځي. دا قاموس څو برخې لری: د افغانستان د اصالت پېژندنه، مجمع اللغات، سياسی رجال، ليکوال، څېړونکي، هنرمندان او شاعران، تاريخی ابدات، جغرافيه او د کرنې او د اقتصاد اختصاصی قاموسونه.
د افغانستان د قاموس پورته لومړنی برخې بالعموم د ګران افغانستان تاريخی او اوسنی پېژندنه او د فرهنګی ميراث دثبت او معرفی برخې دي. داقتصاد او کرنې قاموسونه علمی او مسلکی دکشنری دي، هيله ده دطب، کانونو، رياضياتو، د بريښنايی تکنالوژی او نورې علمی- مسلکي برخې هم ايجاد شي. فعلاً په دغو ټولو برخو همزمان کار روان دی. نه هيروو چې هيڅ کار؛ خصوصاً په پيل کې بې ستونزو نه وي، شايد دافغانستان لوی قاموس هم ستونزې ولري، خو ګام په ګام به اصلاح او بشپړ شي.
د قاموس لومړی ذکر شوې برخې ټولو ته؛ په تېره د هغو څېړونکو لپاره په زړه پورې دي چې غواړي افغانستان وپېژني. اما علمی او مسلکی – تخصصي برخه يې ځوانانو او محصلانو ته ډير ګټوراو آسان اخځ دی.
ګڼ شمېر محصلان د اصطلاحاتو په هکله پوښتنې کوي. خو دوی تر اوسه داسې اخځ په واک کې نه درلود چې اړوند مسلکي اصطلاح په هغه کې تعريف او پېژندل شوي وي، دا دی اوس به دوی د خپلو پوښتنو ځوابونه په آسانه دغه آنلاين قاموس کی چې هرځای او هر وخت دوی ته ميسر دی، مومي. د قاموس، په تېره بيا د مسلکي او اختصاصي قاموس يوه ځانګړتيا دا ده چې (عاجل) وي يعنې په ډېر لږ وخت کې سوال حل کوي او په آسانه توګه موږ ته توضيح راکوي. د قاموسونو ترتيب داسې وي چې د الفبا له مخې مربوطه اصطلاح په هغه کې آسانه موندل او ځواب کېدای شي، نو ځکه ورته (عاجل) وايي. قاموس يوه اصطلاح او نومونه په مشخص ډول بيانوي. يو حقيقت راته ډېر جوت او څرګندوي او هغه دا دی چې قاموس او سينډګی هم د يوې ژبې لپاره او هم د مربوطه علمي ځانګې لپاره ضرور او په اړونده علمي ځانګه کې د ستونزو حل کوونکی وي.
افغانستان کې دکورنيو جګړو له امله د معارف سلسله پرې شوه، زموږ هغو ځوانانو چې دښوونځی او د نوې ځوانۍ دوره بهر هيوادو کې تيره کړې ده/تيروي، افغانستان کې له مروجه عاميانه، تاريخی، جغرافياوی، دفتری ...اصطلاحاتو او محاورې سره لږ بلد دي، دوی هر يو په خپله خوښه او له خپل نظر سره سم د يو شي په هکله فکر کوي او نوم ورته غوره کوي، د افغانستان لوی قاموس به دا ستونزې حل کړي. خو د ليکوالو لپاره يې يو څو وړانديزونه شته:
۱.قاموس په دواړو رسمی ژبو بشپړيږي، نو ضرور ده چې ليکوال خپله ليکنه په دواړو ژبو واستوي. ډېر ژر به دا شرط حتمی شي، هغه ليکنې چې په دواړو ژبو نه وي، ممکن قاموس کې ځای ونه مومی. ډاکتر صاحب ن. اسد د اقتصاد د قاموس بنسټ همداسې عيار کړی اوپه ګډه مو په دواړو ژبو پرمخ بوت، دکرنې اختصاصی قاموس د محترم ډاکتر صاحب وزيری په تلاش تر يو حده په دواړو ژبو، خو ځينی برخې په يوه ژبه دي. دا شرط بايد پوره شی،


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

۲.داچې ځینی لیکوال د ساینسي ښانګو متخصصان دي، شاید لیکنه یې د ګرامر او ادبیاتو له پلوه ژبني ادیت ته اړتیا ولري، باید مخکې تر نشر ادیت شي،
۳.هڅه دې وشي چې مصور، د فرمولونو، معادلو، انځورونو او نقشو لرونکی وي،
۴. ډېره ضروري ده چې دلیکنې هیئت تشکیل او معرفي شي. را رسیدلې لیکنې باید یو ځل د هیئت له خوا له مسلکی او د ژبې د ادیت او ګرامر او د تنقیط د اصولو له پلوه وکتل شي. ﷲ الحمد تر اوسه موږ خپله ټوله معنوي شتمني له لاسه نده ورکړې، داسې لیکوال،پوهان او ښېرونکي لرو چې دې برخه کې پوره مرسته کولای شي، مبادا کوم وخت د دوی آرمان راشي. د سرو زرو زیرمه مخکې له دی چې زر او زرپېژندونکی خدای مه کړه له لاسه ورکړو، باید ډکه او خوندي کړو. د قاموس د موجودو همکارانوو ترڅنګ؛ د محترم پوهاند قویم، محترم ډاکتر اورمړ، محترم معروفی، محترم غلام حضرت، محترم شریفی، محترم کلیوال، محترم روستایی، محترم لطیف یاد، محترم کانی او یو شمیرنورو ښېرونکو او تجربه لرونکو لیکوالونومونه یادولای شو، چې د رڼا دغه کاروان سره مل شي،
۵.هغه قلمی همکاران چی شاعران، هنرمندان، مشاهیر او سیاستوال راپېژني، باید لیکنه یې د یو فارمت له مخې وي، مثلاً : د شاعر/ لیکوال یا هنرمند او سیاستوال نوم، تخلص، کُنیه/ مستعار نوم، د پلار نوم، د زیږیدو ځای او کال، دندې، د ژوند مهمی پېښې، آثار او مړینه . که امکان یې و انځور یې هم خوندي شي.
د شاعر، هنرمند، مشاهیرو یا سیاستوالوهغه معرفی چې له واحد فارمت بهر او ګډه وډه یا دشخصی روابطو او علایقو یا خاطرو په بڼه یا نیمګړې وي د نه منلو ده. دا ډول ښېرې باید د یو دربیم شخص(ښېرونکي) له خوا معرفی شي، نه دا چې بیلابیل کسان خپله خپل ژوند لیک ولیکي او را ویې لیږي. د لیکنې هیئت د لیکنو غوره کولو او دهغو ادیت کې واک لري.
ډیر ژر به د دې اصولو د رعایت لپاره یو طرزالعمل ترتیب او نشر شي. هیله ده دغه قاموس راتلونکی کې دلازیاتو ښېرونکو او لیکوالو پاملرنه راواړوي او همکاران یې زیات شي. د نړۍ لوی قاموسونه د زرګونو قلموالو په ګډ کار بشپړ شوي دي، دا تجربه موږ ته لا زیاته مهمه ده. د انجنیر صاحب قیس کبیر زیار او نوښتونه، ستوماني او هلې- ځلې ستایو. خدای وکړي راتلونکو نسلونو ته یوه عالی معنوی ګنجینه د سوغات په توګه پرېښودلای شو. امید دی دوی به یې بیا په خپل وار نوره هم بډایه او ښایسته کوي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ